# اعلیٰ حضرت

## يو پيرِ کامِل

**12-May-2022**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

## 12 مئی 2022ء د پاکستان هفته وار اجتماعاتو کیدونکے بیان

# اعلٰی حضرت یو پیرِ کامِل

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضیلت

د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: خپل مجلسونه په ما باندې دُرُودِ پاك لوستلو سره ښائسته کړئ، بیشکه ستاسو په ما باندې دُرُود شریف لوستل د قیامت په ورځ به ستاسو د پاره نُور وي.[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: اَلنِّیَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نِیَّت



[1]...جامع صغیر، صفحه:280، حدیث:4580۔

www.dawateislami.net

بنده جَنَّت ته داخلوي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د هر نيك او جائز كار نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونو كولو عادت جوړ كړئ چې هغه نِيَّت بنده جنَّت ته داخلوي. د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوكړئ: مَثَلاً نِيَّت اوكړئ چې ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ د علمِ دِين زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ❀ چې څومره كيدے شو د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه كښينم ❀ د خپلے اصلاح د پاره به پوره بيان اورم ❀ څه چې واورم پخپله به پرې د عمل كولو او نورو ته د رَسَولو كوشش كووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اے عاشِقانِ رسول! 10 شَوَّالُ الْمُكَرَّم د ولـئ كامِل، پيرِ طريقت، رهبرِ شريعت، اعلٰـی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پيدائش ورځ ده.

يقيناً د اعلٰـی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ذاتِ بابركت د دُنيائے اسلام د پاره ډير لوئ نِعمَت دے. كله چې كافرانو د اسلام خلاف سازشونه كول، بدمذهبي مخ په وړاندې روانه وه، بدعتونه عام كيدل، د اسلامي تعليماتو بدلولو كوششونه روان وو، د فتنو په دې وخت كښې الله پاك د



[1]...مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

www.dawateislami.net

اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په صورت کښې دُنیائے اسلام ته یو عظیم نِعمَت عطا کړو، اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مُجَدِّد جوړ کړے شوے تشریف راوړو او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! هغوئي فتنے ختمې کړې، د کافرانو سازشونه ئې ناکامه کړل، د بدمذهبئ زور ئې مات کړو، بدعقیدګي ئې ختمه کړه، اصل اسلامي عقائدو ئې صحیح تشریح اوفرمائیله، په اسلامي عقائدو، اسلامي تعلیماتو، د قرآن په عِزَّت و حُرمت او د رسُولِ اکرَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په عِزَّت و ناموس باندې ئې څوکئ اوکړه، بدعتونه ئې ختم کړه، سُنَّتونه ئې عام کړه، د معاشرے اصلاح ئې اوفرمائیله، خلق ئې د عشقِ رسول (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نه مالا مال کړه او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! فتنے ئې ختمې کړې او د دِین بیرغ [یعني پرچم] ئې اوچت کړو.

تُونے باطل کو مٹایا اے امام احمد رضا | دین کا ڈنکا بجایا اے امام احمد رضا
تھر تھرائے کانپ اُٹھے باغیانِ مصطفٰے | قہر بن کے اُن پہ چھایا اے امام احمد رضا
حشر تک جاری رہے گا فیض مُرشد آپ کا | فیض کا دریا بہایا اے امام احمد رضا
قبر پر ہو بارشِ انوارِ حق تیری سدا | ہو نبی کا تجھ پہ سایہ اے امام احمد رضا[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اعلٰـی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د کمال نه ډک شخصیت دے یعني د هغوئي سیرت چې په



[1]...وسائل بخشش، صفحه:525۔

کوم اړخ اوګورئ نو بس تاسو ته به کمال او کمال په نظر راځي، څنګه چې اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډیر لوئ مُفَسِّر دے، زبردست مُحَدِّث دے، بےمثاله عالِم دے، باکماله مُفتـي دے، عابد [یعني ډیر زیات عبادت کوونکے] دے، زاهِد [یعني د دُنیا نه ډډه کوونکے] دے، دغه شان اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو ولـئ کامِل او پیرِ کامِل هم دے. نن هم د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په لکونو کروړونو مریدان په دُنیا کښې موجود دي او څومره چې عطّاري دي هغه هم رَضَوي دي ځکه چې اَمیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په واسطے سره په سلسله قادریه کښې بیعت کوي. او کوم عاشقانِ رسول چې د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په سلسله کښې بیعت نه دي، هغوئي هم د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشقان یقینًا دي ځکه چې اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عشقِ رسول او سُنّـیَت پیژندګلو ده.

اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زمونږه پیر دے، د هر عاشِق د زړه دړکن دے. نن مونږه اعلٰـی حضرت یو پیرِ کامِل په عنوان سره د سیرتِ رِضا یو څو مثالونه اوریدلو سعادت حاصلوو. اللّٰه پاك دې مونږ ټولو ته په مسلكِ اعلٰـی حضرت باندې ثابت قدمي نصیب کړې، په عشقِ رِضا، مَحبَّتِ اولیاء او په عشقِ مصطفٰی باندې استقامت را عطا کړې.

اٰمین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**ترجمه:** راکړې ما ته په مسلكِ احمد رضا باندې استقامت
چې جوړ شم زه خدمت ګار د اَهلِ سُنَّت یا رَسُولَ الله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## یوه دروازه اونیسئ! مضبوطه ئې اونیسئ...!

سَیِّد اَیُّوب علي صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه: دوئي د اعلٰی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه شاګرد هم دے او عام طور به د اعلٰی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خدمت کښې حاضر اوسیدلو، په سیرتِ اعلٰی حضرت باندې د ټولو نه اوَّل د کار کولو سعادت هم سَیِّد اَیُّوب علي صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته نصیب شوے دے.

د دوئ (یعني سَیِّد اَیُّوب علي صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه) بیان دے: یوه ورځ زه او زما ورور سَیِّد قناعت علي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د اعلٰی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په مکتب کښې حاضر وو او په یو علمي کار کښې مصروفه وو، د سحر 9 یا 10 بجې وخت وو، یو ځلمے راغے او سلام ئې اوکړو بیا خاموشه یو طرف ته کښیناستلو، مونږه ترې تپوس اوکړو: د چرته نه راغلے ئې؟ اوئې وئیل: د میرټهـ اوسیدونکے یم. مونږه ترې پوښتنه اوکړه: څنګه تکلیف دې اوفرمائیلو (یعني په کوم کار سره راغلے ئې)؟ په دې تپوس باندې هغه ځلمي ډیر زیات اوژړل، مونږه ترې بیا بیا پوښتنه اوکړه خو هغه څه جواب رانکړو، آخر د ډیر مِنَّت نه پس ئې اوویل: زه د حُضُور اعلٰی حضرت

رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مرید یم. په دې کال ما ته د خواجه غریبِ نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په عُرسِ پاك کښې د حاضرئ سعادت نصیب شو. هلته ما یو سړے اولیدلو کوم چې په ظاهِره یو بُزُرګ ښکاریدو، ما د هغوئي ادب کولو سره د هغوئي ښپے ښکل کړې.

هلته موجودو څه خلقو ما ته اووئیل: تاسو د دوئي مرید شئ! ما اووئیل: زه خو د مخکښې نه د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مرید یم. په دې باندې خلقو اووئیل: **هلته تاسو په شریعت کښې بیعت ئې، دلته په طریقت کښې بیعت شئ.** د خلقو په دې خبرو اوریدو سره زه د هغه صاحب مُرید شوم. د مُرید کیدو نه پس زه خپل د قیام ځائ ته راغلم، لږ ساعت د آرام د پاره څملاستم اوده شوم. څه ګورم چې په خوب کښې اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه راغلو، مخ مبارك ئې د جلال نه ډك وو، اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائیل: **راکړه، زمونږه شجره بیرته راکړه.** د دومره فرمائیلو نه پس زه بیداره شوم. د هٰغه ورځې نه پس زما طبیعت په څه کار کښې نه لګي. سکول کښې مې سبق وئیلو، هغه مې هم پریښودو، هر وخت مې زړه غواړي چې ښه ډیر اوژاړم.

سَیِّد اَیُّوب علـي صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د ځلمي خبرې چې مونږه واوریدې نو هغه ته مو تَسَلِّـي ورکړه او ورته مو اووئیل: ویریږه مه، ماسپښین

به اعلٰـی حضرت (رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه) تشريف راوړي، د لمَانځه نه پس ورته عرض اوکړه چې زه د تجديدِ بيعت د پاره حاضر شوے يم. زمونږ خبره اوريدو سره هغه ځلمے په قلاره شو. مونږه لا خبرې کولے چې اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د معمول خلاف د خپلې کوټې نه بهَرته تشريف راوړو او هغه ځلمي ته ئې اوفرمائيل: تاسو ښنګه راغلئ؟ د اعلٰـی حضرت (رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه) دې الفاظو اوريدو سره مونږه حيرانه شو، ځکه چې د هغوئي عادتِ مبارکه دا وو چې کله به څوك راغے نو هغوئي به ترې تپوس کولو: تاسو ښنګه تکليف اوفرمائيلو؟ (يعني د اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د عادت خلاف د هٔغه ځلمي نه داسې پوښتنه کول چې تاسو ښنګه راغلئ؟ د دې وينا نه معلوميدل چې هغوئي د دې ځلمي نه سخت ناراضه دے).

خير! په هغه ځلمي باندې غم غالب وو، هغه د اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په دې سُوال باندې په ژړا شو او څه جواب ئې ورنکړو. لږ ساعت پس اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: په ژړا کار نه کيږي، مطلب بيان کړه! د دې فرمائيلو نه پس هغه ځلمي ټوله واقعه بيان کړه. اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د هغه ټوله قِصّه واوريدله او اوئې فرمائيل: زما خوا له څه له راغلے ئې؟ هغه ځلمے بيا په ژړا شو، د غم د غلبے په وجه ئې دومره همَّت نه لرلو چې د تجديدِ بيعت د پاره ئې عرض کړے وے. خير!

اعلٰــی حضرت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه اوفرمائیل: تاسو قیام اوکړئ، زه کار کووم. د دې وئیلو نه پس اعلٰــی حضرت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه بیرته تشریف یوړلو.

سَیِّد اَیُّوب علــي صاحب رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه فرمائي:مونږه هغه ځلمي ته تَسَلِّــي ورکړه او ورته مو اووئیل: ویریږه مه، اعلٰــی حضرت (رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه) به ماسپښین لمَانځه له تشریف راوړي، هغه وخت د تجدیدِ بیعت د پاره عرض اوکړه. مختصر دا چې د ماسپښین په وخت چې کله اعلٰــی حضرت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه تشریف راوړو نو د لمَانځه نه پس هغه ځلمي هِمَّت اوکړو او د تجدیدِ بیعت د پاره ئې عرض اوکړو. اعلٰــی حضرت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه اوفرمائیل: کله چې تاسو هلته بیعت کړے دے نو بیا ما ته ولے وائې؟ ځلمي عرض اوکړو: حُضُور! زما نه غلطي شوي ده، د خلقو په دوکه کښې راغلے ووم، د خپلې غلطۍ مُعافــي غواړم. اعلٰــی حضرت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه اوفرمائیل: ښه غور اوکړه! سوچ اوکړه! زه د مُرید جوړیدو شوق نه لرم خو چې دا خلق په صراطِ مُستقیم باندې قائم پاتي شي (یعني زه صرف د دې د پاره خلق مرید کووم چې خلق په نیغه لاره قائم وي، د دې نه علاوه زما د مرید کولو څه لالچ نشته، نور ئې اوفرمائیل:) دا صحیح نه دي چې نن په دې دروازه ولاړ ئې، سبا په هغه دروازه ولاړ ئې. یَکْ دَرْ گِیْر مُحْکَم گِیْر (یعني یوه دروازه اونیسه! مضبوطه ئې اونیسه...!). په دې باندې ځلمي لاس جوړه کړل او عرض ئې

اوکړو: حُضُور! داسې به وي، د الله پاك د پاره اوس زما قُصُور مُعاف کړئ.
په دې باندې اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه ځلمے بيا مريد کړو او
ځلمے په خوشحالئ خوشحالئ خپل کور ته روان شو.

میں گرفتارِ بلائے دو جہاں | ہر بلا سے کر رِہا احمد رضا!
تم ہی مُرشِد، تم دوائے رنج و غم | مجھ پہ بھی چشمِ عطا احمد رضا!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** تاسو اوليدل! زمونږه اعلٰـی حضرت،
اِمامِ اهلِسُنَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ډيرو زياتو مصروفياتو باوُجود په خپلو مريدانو
باندې څنګه نظر ساتې. د کوم سړي په لاس چې دې ځلمي بيعت کړے
وو، شايد ښه بنده نه وو، ځکه خو د هغه خوا ته را غونډ شوي خلقو دا
وئيل: **هلته ته په شريعت کښې بيعت ئې، دلته په طريقت کښې بيعت شه.**
دا ډيره غټه ګمراهي ده. اوس هم بعضې خلق طريقت د شريعت نه جدا
ګڼړي، حالانکه شريعت او طريقت دوه بيل بيل څيزونه نه دي، طريقت
د شريعت حِصّه ده. [ځکه چې طريقت د شريعت تابع دے، هغه پيرِ کامل
هيڅ کله نه شي جوړيدے کوم چې په شريعت او طريقت کښې فرق کوي]
پيرانِ طريقت کوم چې واقعي رښتيني او کامِل پيران دي، هغوئي ټخپله هم
په کثرت سره عبادت کوي او خپلو مُريدانو ته ښه د رياضت و عبادت کولو

تردې پورې چې د نفل لمُونځونو او نفلـي روژو نیولو هم وعظ و نصیحت کوي او دا نادانه [په نوم پیران] کوم چې په طریقت او شریعت کښې فرق کوي، دا فرض لمُونځونه هم پوره نه ادا کوي، شرعي احکام ضروري نه ګڼړي بلکه بعض خو **مَعَاذَ الله!** د شریعت مذاق هم کوي، په دې وجه داسې پیر جوړول هیڅ کله ټیك نه دي.

هم دغه وجه ده چې اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه په خپل مُرید باندې د کرامت نظر اوکړو، د هغوئي مُرید په اجمیر شریف کښې وو، هغه هلته غلطي اوکړه، اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه په بریلي کښې اوسیدلو، د کرامت په طور هغوئي ته خبر اوشو او هغوئي فورًا په خوب کښې تشریف راوړو او د ناراضئ اِظهار کولو سره ئې د خپل مرید اصلاح اوفرمائیله.

صَـلُّـوۡا عَـلَی الۡـحَـبِـیۡـب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَـمَّد

## د پیر جوړولو یوه لویه فائده

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د دې نه دا هم معلومه شوه چې پیر جوړول ډیره د فائدے خبره ده، د دې یوه لویه فائده خو دا هم ده چې د چا پیر کامِل وي، هغه خپل مریدان کله هم بےلارې نه پریږدي. اوګورئ! هغه څلمي د پیرِ کامِل اعلٰـی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان

رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په لاس بیعت کړے وو، ځکه هغه د ګمراهئ نه او د ګمراهانو د صحبت نه بچ شو.

نن سبا د فتنو دور دے، مونږ له هم پکار دي چې باشرع، جامع شرائط پیرِ کامِل په لاس کښې لاس ورکړو [یعني د هغوئي بیعت اوکړو]، د دې په برکت به اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! د ګمراهئ نه بچ شو او د اِیمان د حفاظت اسباب به هم پیدا شي.

حشر تک جاری رہے گا فیض مُرشد آپ کا | فیض کا دریا بہایا اے امام احمد رضا
اے امام اِہلِ سنّت نائِب شاہِ اُمم | کیجئے ہم پر بھی سایہ اے امام احمد رضا[1]

## بیعت ډیر خوږ سُنَّت دے

اعلٰـی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: بیعت بیشکه د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبوب سُنَّت دے.[2]

زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ډیر موقعو باندې بیعت اخستے دے او صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لاس مبارك لاس اینښودو سره بیعت کړے دے. په هغې کښې د یو بیعت ذِکر الله پاك په قرآنِ کریم کښې بیان کړے دے، ارشاد فرمائي:



[1]...وسائل بخشش، صفحه:525ملتقطاً۔
[2]...فتاوی رضویه، جلد:26، صفحه:586۔

www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| لَقَدْ رَضِیَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِیْنَ اِذْ یُبَایِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ (پارہ:26،سورۂ فتح:18) | [مفهوم] ترجمۂ کَنْزُ الایمان: بیشکه الله راضي شو د اِیمان والؤ نه، کله چې هغوئي د ونے لاندې ستاسو بیعت کولو. |

## چې د چا پیر نه وي، د هغه پیر شیطان دے

فتاوٰی رضویه، جلد26، صفحه 575 کښې دي (چې د هغې خُلاصه څه داسې ده): یو حدیث روایت کیږي: مَنْ لَاشَیْخَ لَهٗ فَشَیْخُهُ الشَّیْطٰن چې د چا پیر نه وي، د هغه پیر شیطان دے.

د دې روایت مصداق هغه خلق دي کوم چې مشائخِ کرام نه مني.[1]

## نیك پرهیزګار هم پیر جوړ کړئ

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! بعضې خلقو ته وسوسه راځي چې ما ته د پیر جوړولو ضرورت نشته، زه لمُونځونه کووم، روژې نیسم، نفلـي عبادتونه هم کووم، باطـني ګناهونو نه هم بچ کیږم وغیره وغیره، دغه شان سوچ کولو سره خلق د پیر جوړولو نه محرومه اوسي.

د داسې خلقو په خدمت کښې عرض دے چې اوّل خو د خپل ځان بنه ګنړلو سوچ بنه نه دے، په دې کښې د خپل ځان بنه خوښولو بوئ دے، په

323

[1]...فتاوی رضویه، جلد:26، صفحه: 575خلاصةً۔

**دويم نمبر دا ياد ساتئ!** چې څوك څومره رسيدلے ولے نه وي، هغه دې هم د پيرِ کامِل لټون اوکړي، پير دې جوړ کړې، رښتينے نِسبَت دې حاصل کړي ځکه چې د رښتيني نِسبَت نه بغير د معرفَت درجات حاصلول ډېر ګران بلکه ناممکن دي. اوګورئ! الله پاك په قرآنِ کريم کښې د پرهيزګارانو خلقو وسيله اختيارولو حکم فرمائيلے دے، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ ابْتَغُوْۤا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ (پاره:6،سورهٔ مائده:35) | [مفهوم] ترجمۂ کَنزُالایمان: اے ايمان والؤ د الله نه اُويريږئ او هغه طرف ته وسيله اولټوئ. |

**حکيمُ الاُمَّت** حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: په دې آيت کښې د تقوٰی نه پس د وسيلے لټولو حکم ورکړے شوے دے او دا بيان شوي دي چې **يو مُتَّقي د تقوٰی يوے درجے ته د رسيدلو سره د وسيلے نه بےنيازه کيدے نه شي، لِهٰذا يو مُتَّقي مسلمان دې دا نه ګڼړي چې زه مُتَّقي جوړ شوم اوس ماله الله پاك ته د رسيدلو د پاره د څه وسيلے ضرورت نشته،** ځکه چې هر مُومِن د اعمال و تقوٰی حاجت مند دے داسې هر مُتَّقي د وسيلے محتاجه دے.[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

323

[1] ...تفسير نعيمى، پاره:6، سورهٔ مائده، تحت الآية:35، جلد:6، صفحه:394 و 402 خلاصةً۔

## د پيرِ کامِل څلور شرائط

اعلٰـی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د بيعت د پاره ضروري دي چې په پير کښې څلور شرطونه جمع وي: **(1)** صَحِيْحُ الْعَقِيْدَه سُنّـي وي **(2)** دومره علم لري چې د خپل ضرورت مسائل د کتابونو نه را ويستے شي **(3)** فاسِقِ مُعلِن (يعني اِعلانيه ګناه کولو والا) نه وي [مطلب دا چې په شرع برابر وي ګيره نه کټ کوي او د شريعت خلاف نه کوي] **(4)** د هغه سلسلهٔ بيعت د نبـي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پورې مُتَّصِل (يعني پيوست) وي. چرته چې په دې څلورو شرطونو کښې يو شرط کم وي، بيعت جائز نه دے.[1]

## اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل پيرِ کامِل په نظر کښې

د 1294 هجرئ واقعه ده، هغه وخت د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عمر مبارك 22 کاله وو، يوه ورځ اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لږ سوچ اوکړو او په ژړا شو او په ژړا ژړا کښې اوده شو، په خوب کښې ورته خپل نيکه [يعني د پلار پلار] حضرت مولانا مفتـی رِضا علـي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف راوړو او يو صندوقچے ئې ورته ورکړو اوئې فرمائيل: عنقريب هغه کس راتلونکے دے کوم چې به تا ته ستا د زړه د درد دوا درکړي.



[1] …فتاوٰی رضويه، جلد:26، صفحه:568۔

www.dawateislami.net

په سبا له حضرت مولانا شاه عبدُالقادر بدایوني رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه تشریف راوړو او اعلٰــی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د ځان سره کړو مارهَره ته لاړل، د مارهَره استېیشن ته چې اورسیدل نو اعلٰــی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه اوفرمائیل: **د شیخ کامِل خوشبو راځي.**[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! د مُریدِ کامِل کیفِیَّت اوګورئ! لا مُرید شوے نه دے، د پیرِ کامِل خوشبو ورته د محکښې نه راځي. د استېیشن په یو سرائے کښې اعلٰــی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه غُسل اوکړو، نوي جامے ئې واغوستې، بیا خانقاهِ برکاتیه ته حاضر شو.

کله چې د خانقاهِ برکاتیه شیخِ کامِل، تاجدارِ مارهَره، اِمامُ الاولیاء حضرت مولانا شاه آلِ رسول مارهَروي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه په خدمت کښې حاضر شو نو شاه آلِ رسول رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د لیدلو سره اوفرمائیل: **راځئ! مونږه خو د ځو ورځو نه اِنتِظار کولو.**[2]

اَللّٰهُ اَکْبَرْ! اے عاشِقانِ رسول! غور اوکړئ! مریدِ کامِل ته د استېیشن نه د پیرِ کامِل خوشبو محسوسیدله او پیرِ کامِل د ځو ورځو نه انتِظار کولو. خیر! شاه آلِ رسول رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه اعلٰــی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه په بیعت کښې داخل کړو او هم هغه وخت ئې ورته په سلسله عالیه قادریه، سلسله

323

[1]...فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:315۔
[2]...فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:316۔

چشتیه، سلسله سُهروردیه، سلسله نقشبندیه غرض په ټولو سلسلو کښې اجازت و خلافت عطا کړو. د دې سره سره کوم تبرکات چې د بُزُرګانِ دینو نه را روان وو، هغه هم ټول ئې ور عطا کړل، یو صندوقچے هم ورکړو کوم ته چې به ئې د **وظیفے صندوقچے** وئیلو.

اوس دلته لږ غور اوکړئ! اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه صرف د پیرِ کامِل په بارګاه کښې حاضر شو، بیعت ئې اوکړو او پیرِ کامِل شاه آلِ رسول رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پرې د بیعت کولو سره داسې مهربانئ اوکړې. په اوَّلني ملاقات کښې چې د شاه آلِ رسول رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دومره عنایتونه اولیدل نو ټول مریدان حیرانه وو، دغه وخت د شاه آلِ رسول رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه جانشین او نمسي سَیِّد ابُو الحُسَین احمد نُوري شاه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم موجود وو، هغوئي د خپل نیکه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې عرض اوکړو: حُضُور! ستاسو خلافت و اجازت خو دومره عام نه دے، تاسو [په خپلو مریدانو باندې] په کلونو کلونو ریاضت کوئ، په قلاره قلاره ئې د منزلونه نه تیروئ، بیا چرته هغه د دې قابِل اومومئ نو صرف د یوے یا دوو سلسلو اجازت و خلافت ورته عطا کوئ، آخر په دې 22 کاله ځلمي (یعني اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) باندې په اوَّلني ملاقات کښې داسې عنایتونه ولے اوفرمائیل؟

د خپل نمسي دا سوال ئې چې واوریدلو نو د شاه آلِ رسول رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په

سترګو کښې اوښکې راغلے او اوئې فرمائيل: اے خلقو! تاسو احمد رضا څه پیژنئ...! بیا ئې اوفرمائيل: زه فِکر مند ووم چې که چرې الله پاك په ورځ د قيامت اوفرمائي: شاه آلِ رسول! تا د دُنيا نه زمونږ د پاره څه راوړي دي؟ نو زه به څه جواب ورکووم؟ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نن هغه فِکر ختم شو. اوس که چرې الله پاك زما نه تپوس اوکړي چې شاه آلِ رسول! د دُنيا نه دې څه راوړي دي؟ نو زه به احمد رضا پيش کړم.

| | |
|---|---|
| روزِ محشر اگر مجھ سے پوچھے خُدا | بول آلِ رسول تُو لایا ہے کیا |
| عرض کردوں گا لایاہوں احمد رضا | یا خُدا یہ امانت سلامت رہے |

مسلکِ اعلیٰ حضرت سلامت رہے

شاه آلِ رسول رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ نور اوفرمائيل: (اے خلقو! واورئ....!) باقي حضرات د زنګ نه ډك زړونه راوړي، هغوئي تيارول وي، احمد رضا صفا او پاك زړه راوړولو سره بالکل تيار راغلے دے، هغوئي ته خو صرف د نِسبَت ضرورت وو. [1]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا د پيرِ کامِل منظورِ نظر، مُريدِ کامِل اعلٰـی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ دے. لږ غور اوکړئ! دغه وخت د اعلٰـی حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ عمر



[1]...تجليات امام احمد رضا، صفحه:37۔

مبارك صرف 22 كاله وو. په دې عمر كښې هم اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ښكته پاك صفا، عبادت ګزار، نيك دِل، نيك سيرته، په شريعت باندې عمل كوونكـے وو، چې د هغوئي پيرِ كامِل اوفرمائيل: **احمد رضا پاك صفا زړه راوړولو سره راغلے دے، هغوئي ته صرف د نِسبَت ضرورت وو.**

سُبْحٰـنَ الـلّٰـه! الله پاك دې د اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بركت زمونږ زړونه هم پاك كړي. كاش! مونږه هم د خپل پير صاحب منظورِ نظر جوړيدلو لائق شو. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## اعلٰـى حضرت د غوثِ پاك نائب دے

د علـي پورسيداں (پنجاب) مشهور بُزرګ **حضرت پير جماعت علـي شاه صاحب** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے. هغوئي سَيِّد دے او د غوثِ پاك په اولاد كښې دے. پير جماعت علـي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ ما ته په خوب كښې د سركارِ بَغداد، حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زيارت نصيب شو، حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: **په هند كښې زما نائب مولانا احمد رضا خان دے.**[1]

دغه شان شَيرِ رَبَّانـي حضرت ميان شير محمد شرقپوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته هم په يو خوب كښې د شَهَنشاهِ بَغداد حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زيارت

323

[1]...فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:323۔

نصیب شو، میاں صاحب رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه فرمائي: ما د حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه نه تپوس اوکړو: حُضُورا! په دې وخت کښې په دُنیا کښې ستاسو نائب څوك دے؟ سرکارِ غوثِ پاك رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه اوفرمائیل: **په بریلي کښې مولانا احمد رضا خان دے.**[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اعلٰـی حضرت** رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه **د غوثِ پاك نائب دے،** دا خبره څه پټه پناه نه ده بلکه د هغه وخت مشائخِ عظام او پیرانِ طریقت ټولو پیژندل چې **اعلٰـی حضرت** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه **د غوثِ پاك نائب دے،** ځکه خو هغوئي به خلقو ته د بریلي لاره ښودله یعني د اعلٰـی حضرت رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه مرید کیدلو ترغیب به ئې ورکولو.

## ستا حِصّه په بریلي کښې ده

سَیِّد اَیُّوب علـي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: په محله ګړهي کښې یو کس اوسیدلو، خلقو به هغه ته انجینئر صاحب وئیلو. یو ځل هغه د ښار نه بهَر په سفر لاړو، هلته خلقو وئیل چې د غر په سر یو **نیك بُزُرګ** اوسیږي خو هغوئي څوك د خپل ځان خوا ته نه را پریږدي، که څوك غر ته د ختلو کوشش کوي نو د بره نه پرې کانړي راولیږي، داسې غر ته ختونکي بیرته راځي. انجینئر صاحب چې دا واوریدل نو پخه اراده ئې اوکړه چې هر

323

[1] ...فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:323۔

 څه کیږي، زه به د دې بُزرګ زیارت خامخا کووم. بیا انجینئر صاحب غر طرف ته روان شو، کله چې هغوئي غر ته ختل شروع کړه نو واقعي کانړي راولیدل شروع شو. انجینئر صاحب هم د ارادے نه پوخ وو، هغوئي د کانړو څه پرواه اونکړه او نظر ښکته ساتلو سره غر ته ختلو، د انجینئر صاحب بیان دے: څنګه چې زه مخکښې تلم، د کانړو راولیدل زیاتیدل، داسې هم اوشو چې څه کانړي زما د خوا نه نزدې اووتل خو ما هِمَّت اونه بیللو او غر ته اوختم. آخر کار کله چې زه د غر سر ته اورسیدم نو اومې لیدل چې یو نیك بُزُرګ سر ښکته کړے ناست دے، زه د هغوئي خوا ته نِزدې خاموشه اودریدم، ډیر ساعت پس هغوئي سر اوچت کړو او ما طرف ته ئې اوکتل، ما سلام عرض کړو، هغوئي د سلام جواب راکولو ورسره اوفرمائیل:

بابا! زما خوا ته ولے راغلے ئې؟ **ستا حِصَّه خو د احمد رضا سره په بریلي کښې ده.**

انجینئر صاحب چې دا واوریدل نو فورًا ئې سلام اوکړو او بیرته راغلو، او په بریلي کښې د اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه په خدمت کښې حاضر شو او د اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه مرید شو.[1]

323

[1] ...فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:342۔

| | |
|---|---|
| اللہ اللہ نو بہار عظمتِ احمد رضا | غنچہ غنچہ ہے زبانِ مدحتِ احمد رضا |
| سائیہ قصرِ دنٰی میں منزلت پایا ہوا | کتنا اونچا ہے مقامِ عزتِ احمد رضا |

## ښوك چې د هغوئي نه وي، هغه زما نه دي

شاه جـي محمد شير ميان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د پيلي بهيت ډېر مشهور بُزُرګ دے، د خپل وخت ولـئ كامِل او پيرِ طريقت وو، هغوئي هم د اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه سره ډېر زيات محبت كولو. يو ځل شاه مير خان صاحب د مُريد كيدو د پاره د شاه جـي محمد شير ميان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په خدمت كښې حاضر شو او عرض ئې اوكړو: ما خپل مُريد جوړ كړئ! په دې باندې شاه جـي محمد شير ميان صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د يو څو منټو د پاره خپلې سترګې بندې كړې، بيا ئې اوفرمائيل: ستا حِصَّه زما خوا ته نشته، بريلي ته لاړ شه! د لوئ مولوي صاحب اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خوا ته ستا حِصَّه ده، د هغوئي مُريد شه!

نور ئې اوفرمائيل: ښوك چې د هغوئي مُريد دے، هغه زما مُريد دے، ښوك چې زما مُريد دے، هغه د هغوئي مُريد دے، ښوك چې د هغوئي نه شو، زما نه دے.[1]

323

[1]...تجلیات امام احمد رضا، صفحہ:67تا68بتغير قليل۔

## اعلٰــی حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ قُطبُ الْاِرشَاد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اعلٰـی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د پیرانِ پیر، پیر دستګیر حُضُورِ غوثِ پاك، شیخ عبدُالقادر جیلاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نائب دے او د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ یو لقب **قُطبُ الْاِرشَاد** دے. قُطب د ولایت یوه درجه ده، هغه ولـئ کامِل کوم چې د طریقت ټولو مقاماتو جامِع وي هغې ته قُطب وائي. قطب د خپلې زمانے په ټولو اولیاؤ کښې جدا شان والا وي، دوئي ته غوث هم وائي او دوئي د خپلے زمانے د اولیاؤ سردار وي، د اِرشاد معنٰی ده: د نیکئ دعوت ورکول، د بدئ نه منع کول، د خلقو د عقائدو اِصلاح کول، په مُعاشره کښې موجودې بدئ ټیك کول، دا ټول د اِرشاد په **ضِمن** کښې راځي. اوس به د **قُطبُ الْاِرشَاد** معنٰی دا شي: د خپلے زمانے د ټولو نه لوئ **مُصلِح اُمَّت** (یعني د اُمَّت اِصلاح کولو والا)، د خپل زمانے د اولیاؤ سردار.[1]

معلومه شوه زمونږ آقا، اعلٰـی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ **قُطبُ الْاِرشَاد** دے یعني د نیکئ دعوت عام کوونکے، د مُعاشرے اِصلاح کولو والا، بدئ ټیك کولو والا، خپلو مُریدان اوچتو درجو ته رَسَوَلو والا او د خپلے زمانے د ټولو اولیاؤ سردار دے.

323

[1]...فتوحات، جلد:3، صفحه:297۔

## په دوئي پسے شاته څه! ټول به په تا پسے درځي

یو ځل اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مهائم شریف (هند) یو مجذوب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د ملاقات د پاره تشریف یوړلو، حضرت عبدُالسَّلام جبل پوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم ورسره وو. مفتـي بُرهانُ الحق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کله چې مونږه د هغوئي خوا ته اُورسیدلو نو مجذوب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عمامه په سر کړي وه او په تخت ناست وو، دلائلُ الخیرات شریف ئې لوستلو.

هغوئي د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ښه میلمستیا اوکړه، چې کله بیرته راتلو نو ما د هغه مجذوب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ښپے مبارکې اونیولې او عرض مې اوکړو: زما د پاره دُعائے خیر اوکړئ! هغه مجذوب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زما په ملا لاس کیښودو او اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه طرف ته ئې اشاره کولو سره اوفرمائیل: **په دوئي پسے شاته څه! ټول به په تا پسے شاته درځي.**[1]

اَللّٰہُ اَکْبَرْ! اے عاشِقانِ رسول! غور اوکړئ! د وخت غټ مشائخ، لوئ لوئ پیران، اولیاءُ الله، د الله نیك بندګانو به زمونږ د آقا اعلٰـی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ښومره عِزَّت کولو، د دې ټولو ګویا یو مؤقف وو، هغه دا چې په نن دور کښې ښوك د



[1]...فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:340۔

www.dawateislami.net

اولیائے کاملینو سردار دے نو هغه د بریلي تاجدار، اعلٰـی حضرت شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے.

دې ټولو اولیائے کرامو به د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تابع داري کولو، د هغوئي په مریدانو کښې د شاملیدلو او په هغوئي پسے شاته تللو تلقین کولو. الله پاك دې مونږ ته د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه رښتیني پخه غلامي نصیب کړي. یقینًا اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پیرِ کامِل دے، الله پاك دې مونږ ته د مریدِ کامِل جوړیدلو توفیق را نصیب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| میں گرفتارِ بلائے دو جہاں | ہر بلا سے کر رہا احمد رضا! |
| تُم ہی مُرشِد، تم دوائے رنج و غم | مجھ پہ بھی چشمِ عطا احمد رضا! |

## د اعلٰـی حضرت د خپلو مریدانو ته نصیحتونه

خوږو اسلامي ورونړو! اعلٰـی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پیرِ کامِل دے، هغوئي به خپل مریدان د ګمراهۍ او بے عملۍ نه بچ کول او د خپلو مریدانو ظاهري او باطني اصلاح د پاره به ئي ښه کوششونه کول.

اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به کله کله د خپلو مریدانو د اصلاح د پاره کوم نصیحتونه ارشاد فرمائیل، راځئ! د هغې نه یو نصیحتونه اورو او

نِیَّت کوو چې پیرِ کامل اعلٰـی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په هر نصیحت باندې به عمل کوو.اِنۡ شَآءَاللّٰہُ الۡکَرِیۡم!

## (1) په مذهبِ اَهلِ سُنَّت باندې قائم اوسئ

اعلٰـی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ خپلو مریدانو ته فرمائي: په مذهبِ اَهلِ سُنَّت باندې قائم اوسئ، خومره بدمذهبه دي مثلاً نیچري، قادیاني وغیره، د دې ټولو نه جُدا اوسئ، دا ټول خپل دُښمنان ګڼړئ، د دوئي خبرے مه اورئ، د دوئي سره مه کښینئ، د دوئي لیکلے شوي کتابونه مه ګورئ چې شیطان ته **مَعَاذَاللّٰه**! په زړه کښې د وسوسه اچولو څه وخت نه لګي.

انسان ته چې چرته د خپل مال یا عِزَّت اندیښنه وي، هلته هیڅ کله نه ځي، دِین او اِیمان د ټولو نه زیات خوږ دے، د دې د حفاظت د پاره د حد نه زیات کوشش فرض دے، مال او د دُنیا عِزَّت، د دُنیا ژوند د دُنیا پورې دے، د دِین و اِیمان سره د همیشه کور (یعني آخرت) کښې کار وي، لِهٰذا د دین و اِیمان فِکر د ټولو نه زیات لازم دے.

## (2) د پینځه وخته لمُونځونو پابندي اوکړئ!

اعلٰـی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نور فرمائي: د پینځه وخته لمُونځونو پابندي ډیره ضروري ده، په نارینؤ باندې د جمات او جَمعې اِلتزام (یعني په پابندئ

سره په جمات کښې د جمعې سره لمُونځ ادا کول) هم واجب دے، بیلمانځه انسان ګویا د سړي تصویر دے. چې په ظاهره صورت د انسان خو د انسان څه کار نه کوي، بیلمانځه صرف هغه نه دے چې کله هم لمُونځ نه کوي، بلکه کوم چې د یو وخت لمُونځ قصدًا پرېږدي، هغه هم بیلمانځه دے.

## (3) قضا لمُونځونه ادا کړئ!

خومره لمُونځونه درنه قضا شوي وي، د ټولو داسې حساب اولګوئ چې په اندازه لګولو کښې باقي پاتي نه شي، زیات شي نو څه مسئله نشته، او هغه ټول (قضا لمُونځونه) د طاقت مطابق مستقل زر ادا کړئ، سُستي او ناراستي مه کوئ چې د مرګ وخت معلوم نه دے.

## (3) قضا روژې اونیسئ!

پیرِ کامِل اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپلو مُریدانو ته نصیحت کولو سره نور فرمائي: خومره روژې درنه قضا شوي وي د بل رَمَضَانُ المُبارَك راتلو نه مخکښې مخکښې پوره کړئ [یعني د هغې قضا راوړئ]. په حدیثِ پاك کښې دي: تر څو پورې چې د تیر شوي رَمَضَانُ المُبارَك د روژو قضا نه وي راوړے شوي نو را رواني [روژې] نه قبلیږي.[1]



[1]...مسند احمد، مسند ابو ہریرہ، جلد:3، صفحہ:266، حدیث:8629۔

www.dawateislami.net

## (5) زكوٰة ادا كړئ!

څوك چې صاحِبِ مال وي (او د زكوٰة فرض كيدلو نور شرائط اوموندلے شي نو) زكوٰة دې وركړي، د څومره كالو ئې نه وي وركړي، نو فورًا حساب كولو سره ادا كړئ، د كال پوره كيدلو نه پس ناوخته كول ګناه ده، لِهٰذا د كال د شروع شروع نه وركوئ، د كال پوره كيدو باندې حساب اوكړئ، كه پوره ادا شي نو بهتره، ګنې څومره باقي وي، نو فورًا دې ادا كړي او كه زيات ادا شي (يعني څومره چې زكوٰة جوړيدو د هغې نه زيات مال د الله پاك په لاره كښې د زكوٰة په نِيَّت وركړے وي نو هغه همره رقم) د راروان كال د هغې نه كټ كړئ. الله پاك د چا نيك كار نه ضائع كوي.

## (6) فرض حج ادا كړئ!

په صاحِبِ استِطاعت [يعني څوك چې بيتُ الله شريف د تللو طاقت لري په هغه] باندې حج فرض دے، الله پاك د دې فرضيت بيان كړے دے فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ عَنِ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۹۷﴾ (پارہ:4،سورۂ ال عمران:97) | [مفهوم] ترجمۂ کَنزُالایمان: او څوك چې مُنكِر شو نو الله د ټول جهان نه بے پرواه دے. |

زمونږ خوږ نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حج پريښودونكو

مُتَعَلِّق فرمائي: غواړي که هغه یښودي مړ شي یا نصراني مړ شي.[1]

## (7) د باطنـي ګناهونو نه بچ شئ!

پیرِ کامِل اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خپلو مریدانو ته نور نصیحتونه کوي، فرمائي: کذب (دروغ)، فُحش (یعني بے حیائي)، چغلـي، غیبت، زنا، لواطت، ظُلم، خیانت، ریا، تڪَبُّر، ګیره وړه کولو، د فاسقانو انداز خپلولو او هر بد عادت نه بچ شئ.

څوك چې په دې (بیان شوو) خبرو باندې عمل اوکړي، د الله و رسول په وعدے سره د هغه د پاره جنَّت دے.[2]

اے عاشِقانِ رسول! پیرِ کامِل اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خپلو ټولو مُریدانو ته دا نصیحتونه فرمائیلي دي، راځئ! نِیَّت کوو چې تر څو پورې مونږه ژوندي یو، په دې ټولو نصیحتونو باندې به عمل کوو، اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِعَلَيۡه د ربښتیني عقائدو، په مذهبِ حق اهلِ سُنَّت باندې د قائم اوسیدلو نصیحت کړے دے، نِیَّت اوکړئ! همیشه به په مسلكِ اعلٰـی حضرت به قائم اوسیږو، د بدمذهبو د صحبت نه به همیشه بچ اوسو، صرف او صرف د عاشقانِ رسول صحبت به اختیاروو، اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پیِنځه

323

[1]...ترمذی، کتاب الحج، صفحه:223، حدیث:812۔

[2]...حیاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:353تا354ملتقطاً۔

واړه لمُونځونه په پابندۍ سره په جمات کښې د جَمعې سره ادا کولو نصيحت کړے دے، لِهٰذا نِيَّت اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! زمونږه به يو لمُونځ هم نه قضا کيږي، او اِمامتي به هم نه پاتي کيږي، خدانخواسته که په چا قضا لمُونځونه وي نو زر زر دې پوره قضا لمُونځونه ادا کړي، د چا چې روژې قضا شوي وي، هغه دې د روژو قضا راوړلو نِيَّت اوکړي، په چا چې زکوٰة فرض شوے وي هغه دې د زکوٰة ادا کولو نِيَّت اوکړي، په چا چې حج فرض شوے وي هغه دې د حج ادا کولو نِيَّت اوکړي، او دروغ، غيبت، چغلـي، رياکاري، تـکبُّر وغيره باطنـي بيمارو نه ټول ځان بچ کول وي، د هغې نه د بچ کيدلو نِيَّت اوکړئ.

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نيك اعمال

اَلْحَمْدُلِلّٰه! عاشقِ اعلٰـی حضرت، اَمِيرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری رَضوي ضيائي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول ته د نيك لمُونځ ګزاره جوړيدو د پاره د اصلاح کومه نُسخه ورکړې ده، يعني نيك اعمال، په دې کښې هغه ټول اعمال شامِل دي د کومو چې اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نصيحت کړے دے، که مونږه د اَمِيرِ اَهلسنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ عطا کړي نيك اعمال مضبوط اونيسو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نصيحتونو سره سره نورو ډيرو

نیکو کولو، خپل کردار کښې مثبت بدلون راوستلو کښې کامیاب شو.

دا نیك اعمال مختلف قِسم دي، د اسلامي ورونړو د پاره 72 دي، د اسلامي خویندو د پاره 63 نیك اعمال دي، د جامعةُ المَدینه د طالب علمانو د پاره 92 دي، داسې ټول دې د خپل ځان مطابق د نیك اعمالو رساله حاصله کړي، هره ورځ وخت مقرر کړئ، د دې خانے ډکوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دې په برکت سره به مو ژوند ښائسته شي، کردار به صفا شي، په نیکو کښې به اضافه اوشي، استِقامت به نصیب شي او که الله پاك اوغواړي نو په زړه کښې به مو د عشقِ رسول چینے رواني شي.اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم!

راځئ! ستاسو د ترغیب د پاره د نیك اعمال یو مدني سپرلے اورووم.

## مدني سپرلے

د کراچئ د علاقے نیو کراچي د یو اسلامي ورور بیان دے: زمونږ د جمات امام صاحب کوم چې د دعوتِ اسلامي د ماحول سره تعلق لري، هغوئي اِنفِرادي کوشش سره یوه ورځ زما مشر ورور ته د نیك اعمالو رساله په تحفه کښې ورکړه، هغوئي [رساله] کور ته راوړه، اولوستله ئې نو حیرانه پاتي شو چې په دې مختصر رساله کښې یو مسلمان ته د اسلامي ژوند تیرولو څومره زبردسته فارمولا ورکړے شوي ده. بس د نیك اعمالو رسالے د هغوئي په ژوند کښې انقلاب راوستلو، هغوئي ته د لمُونځ جذبه نصیب

شوه او د جَمعي لمُونځ ادا کولو له جمات ته حاضر شو او اوس پينځه وخته لمُونځ ګزاره جوړ شوے دے، مخ ئې هم په ګیره مبارکه ښائسته کړو او د نيك اعمالو رساله [کښې خانے] هم ډکوي.[1]

تُو ولی اپنا بنالے اُس کو ربِّ لَم یَزَل | مَدنی اِنعامات پر کرتا ہے جو کوئی عمل

**نوټ: د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې مدني انعاماتو ته اوس نيك اعمال وائي.**

## د ايپلي کيشن تعارُف

**اے عاشِقانِ رسول! اَلْحَمْدُ لِلّٰه** د دعوتِ اسلامي آئي. ټـي له طرفه د عوامو د آسانئ او د خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت د غمخوارئ د پاره يو موبائل ايپلي کيشن ***Online rohani ilaj & istikhara*** (په نوم د "آن لائن روحاني علاج اينډ استخاره) جوړ کړے دے، د دې ايپلي کيشن په مدد سره تاسو ❁ آن لائن استِخاره کولے شئ، ❁ د خپلو بيمارو، بدنظرئ، آسيب، جادو وغيره مسائلو حل کولو د پاره تعويزونه حاصلولے شئ ❁ آن لائن کاټ هم کولے شئ.

**نور په دې ايپلي کيشن کښې** ❁ بيماري ❁ غُربت ❁ غم ❁ پريشاني او ❁ آفتونو مصيبتونو وغيره نه د حفاظت مختلف اَوراد و ظائف هم شامِل دي. تاسو په خپل موبائل کښے دا اَيپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ او انسټال کړئ او نورو ته هُم د دې ترغيب ورکړئ.



[1]...جنت کے طلب گاروں کے لئے مدنی گلدستہ، صفحہ:14۔

www.dawateislami.net

صَــلُّـوْا عَــلَی الْـحَــبِـیْــب!　　صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره كښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو سعادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوكړو هغه زما سره مَحَبَّت اوكړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوكړو هغه به په جنّت كښې زما سره وي."[1]

سینے تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا　　جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت كښې مې خپل جوړ كړه ګاونډي خوږه آقا

## د اوده كيدو او را بيداريدو سُنَّتونه او آداب

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: "څوك چه د مازديګر نه پس اُوده شي او د هغه عقل لاړ شي نو هغه دِ صرف خپل ځان ملامته كړي."[2]

اے عاشِقانِ رسول! د اُوده كيدو نه مخكښې بستره په ښه طريقه څنډئ، كه چرې موذي [يعني ضَرري] خزنده وغيره پكښې وي چه هغه ترې اُوځي.

❀ د اُوده كيدو نه مخكښې دا دُعا وائي: اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيَا ترجَمَه: اے الله پاكه! زه ستا په نوم سره مړ كيږم او ژوندے كيږم (يعني اُوده كيږم او را



[1]...مشكوٰة، كتابُ:الْاِيمان، بابُ:الْاِعْتِصام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔
[2]...مسند ابي يعلیٰ، جلد:4، صفحه:121، حديث:4915۔

www.dawateislami.net

ویښیږم) ❁ د ورځې په وړومبۍ حِصّه کښې اُوده کېدل او د ماښام او ماسخُتن تر مینځه اُوده کېدل مکروه دي.❁ د غرمه قیلوله کول (یعني څه ساعت څملاستل) **مُسْتَحَب** دي. ❁ په اُوده کېدو کښې **مُسْتَحَب** دا دي چه په طهارت [یعني اوداسه] کښې اُوده شي او څه ساعت په ښئ ډېډه ښې لاس د مخ نه لاندې کېږدي او مخ په قبله اُوده شي او بیا د هغې نه پس په ګڅه ډېډه. ❁ د اُوده کېدو په وخت کښې په قبر کښې اُوده کېدل یادول پکار دي چه هلته به یواځې اُوده کېدل وي، سِوا د خپلو اعمالو نه به ورسره هیڅ څوك نه وي. ❁ د اُوده کېدو په وخت کښې د الله پاك په یاد کښې مشغولېدل پکار دي، تَهلِیل و تسبِیح او تَحمِید دِ لوَلي (یعني د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، سُبۡحٰنَ اللهِ او اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه وظیفه دِ کوي) تر دې چه اُوده شي ځکه چه په څه حالت انسان اُوده کیږي په هُم هغې راپاڅي او په څه حالت چه مړ شي د قیامت په ورځ به په هُم هغې را پاڅي. ❁ چه راښیدار شئ نو دا دُعا اولولئ: اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡٓ اَحۡیَانَا بَعۡدَ مَآ اَمَاتَنَا وَ اِلَیۡهِ النُّشُوۡرُ **تَرجَمَه**: ټول ثناء صِفَت الله تعالیٰ لره دي چا چه مونږه د مړه کولو نه پس ژوندي کړلو او هُم د هغه په طرف بیرته ګرځیدل دي. ❁ چه کله د هلك او جینئ عمر لس کاله شي نو هغوئي جُدا جُدا اُوده کول پکار دي بلکه د دومره عمر هلك دِ د دومره غټو (یعني د خپلو همزولو) هلکانو یا (د ځان نه غټو یعني) سړو سره هُم نه

خملي. ❁ هلك چه كله د شَهوت حد ته اورسي نو هغه د سړي په حُكم كښې دے.❁ د خوب نه چې راپاڅئ نو مِسواك اوكړئ. ❁ د شپې چه راپاڅئ نو تَهَجُّد ادا كړئ، ډيره د سعادت خبره ده.[1] فرمانِ مُصْطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: "د فرضو نه پس افضل لمُونځ د شپې لمُونځ دے."[2]

| | |
|---|---|
| میں سو جاؤں یا مصطفٰے کہتے کہتے | کھلے آنکھ صَلِّ علٰی کہتے کہتے |

مختلف سُنَّتونه زده كولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه كتابونه "بهارِشريعت" جلد3 حصّه 16 او د شيخِ طريقت، اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه 91 صفحو رساله 550 سُنَّتيں اور آداب هديةً واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو كښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

| | |
|---|---|
| مانگو آ کر دُعا پاؤ گے مُدّعا | در کرم کے کھلیں، قافلے میں چلو |
| ہے نبی کی نظر، قافلے والوں پر | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو |

الله پاك دې مونږ ته د عمل كولو توفيق راكړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

323

[1]...550سنتیں اور آداب، صفحه:38-40.

[2]...مسلم، كتاب الصيام، باب:فَضْلِ صَوْمِ الْمُحَرَّم، صفحه:424، حديث:1163.

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او دُعا

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنئ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبُر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبُر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيّدُنا انَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه

323

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص١٥١ملخصًا

مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې

323

1...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو



1...القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْكَرِیْمُ . سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



1... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵

www.dawateislami.net